مجیب الرحمن ۲۰۱۱/۱۲/۱۸

# پر افغانستان د فشار نوې آله

د ډسمبر په ځلورمه نیټه ایراني پوځي چارواکو وویل، چي دوی د امریکا پرمختللي بې پیلوټه څارګره الوتکه، چي شاوخوا ۲۲۵ کیلو متره د ایران خاوري ته ننوتي وه نسکوره کړې ده.

د ایراني چارواکو له قوله د آر کیو ۱۷۰ ډوله امریکایی څارګرې بې پیلوټي الوتکي ځانګړتیاوې، چي ایران یې د نسکورېدو ادعا کوي په لاندي ډول دي:

| | |
|---|---|
| جوړونکي کمپنی: | لاکهیډ مارتین |
| لومړنی کاروونکی: | د امریکا پوځ |
| تولید شوې شمیره: | ۲۵۲ |
| د وزرنو اوږدوالی: | ۲۷ متره |
| له ځمکي څخه د پورته کیدو پر مهال وروستی وزن: | ۴۸۵۰ کیلو ګرامه |
| د پرواز وروستی جګوالی: | ۱۵۳۵۰متره |
| بیه: | ۶۰۰۰۰۰۰ امریکایي ډالر |
| مستعار نوم: | د کندهار ځناوره |

د روان کال د جون په میاشت کي هغه مهال، چي ځانګړو امریکایي ځواکونو د اسامه بن لادن د اوسیدو پر ځای برید وکړ له دغي الوتکي څخه ګټه پورته شوې ده او دغې الوتکي د اسلام آباد د ایبټ آباد له سیمې څخه، چي د اسامه بن لادن پر وړاندې د ځانګړو امریکایي ځواکونو عملیات روان وو، مخامخ یې ویډیو سپیني ماڼی ته لیږدوله.

د ایراني چارواکو له دغي ادعا څخه وروسته، چي ګواکي دغه الوتکه د افغانستان له خاورې څخه د ایران خاورې ته دننه شوې ده یوه ورځ وروسته ځیني نا تایید شوي ریپوټونه خپاره شول، چي په کي ویل شوي وو: دغه الوتکه د تخنیکي ستونزو له د ایران پولي ته نږدې د افغانستان په خاوره کي لوېدلې وه، چي وروسته بیا د ښاغلي ګلبدین حکمتیار تر مشرۍ لاندې حزب اسلامي کسانو له لورې پر ایران وپلورل شوه.

همدا راز په هیواد کي د سیاسي چارو شنوونکي احمد سعیدي هم آزادی راډیو ته ویلي دي، چي دغه الوتکه د پاکستان له شمسي اډې څخه له الوت وروسته د تخنیکي ستونزو له امله د فراه ولایت په سرحدي سیمه کي لوېدلې او وروسته بیا د څو کسانو له لورې پر ایران پلورل شوې ده.

ښاغلي سعیدي ویلي دي، چي دغه الوتکه په موټر کي ایران ته لېږدول شوې نو له دې امله، چي په موټر کي نه ځایېده یو وزر یې زیانمن شوی دی.

له هغه وروسته، چي ایراني چارواکو د دغې الوتکي ویډیو خپره کړه، نو ورسره جوخت یې پر افغان دولت نیوکي وکړې، چي ګواکي د افغانستان له خاورې څخه د ایران پر وړاندې ناوړه ګټه پورته شوې ده او افغان دولت دې په دې برخه کي جدي پاملرنه وکړي او پرې نږدې، چي امریکایي بې پیلوټه الوتکي دې له افغانستان څخه د ایران هوایي حریم ته دننه شي.

افغان دولت بیا د ایران دغو نیوکو پر وړاندې چوپه خوله پاتې شوی دی او پر دې بسیا یې کړې، چي د ایران پوځ یوازې او یوازې د دغه الوتکي ویډیو خپره کړه او بس او د هیڅ راز لاسوندونو او اسنادو غوښتنه یې نه ده، چي آیا


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

واقعاً دغه الوتکه له افغانستان څخه د ایران خاورې ته ننوتلې؟ او آیا واقعاً در الوتکه د ایران پوځ او ساتونکو ځواک له لوري نسکوره شوې ده؟

که چېرې د هیواد اوسنیو حالاتو او هغو رپوټونو ته، چې د ناټو او افغان امنیتي ځواکونو چارواکو له لوري خپاره شوي ځیر شو، نو وبه لیدل شي، چې دا ایران دی، چې د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه کوي، د افغان دولت وسله والو مخالفینو ته پیسې، وسلې او نور تجهیزات ورکوي او حتی ویل کیږي، چې د افغان دولت د وسله والو مخالفین روزنځایونه او کورنۍ یې په ایران کې میشت دي؛ خو د دغو ټولو ناخوالو پر وړاندې افغان دولت حتی خپل غږ اوچت نه کړ او کله، چې د ایران د کورنیو چارو وزیر مصطفی محمد نجار کابل ته راغلی وو، نو زموږ د کورنیو چارو وزیر ښاغلي بسم الله محمدي په ډېرې سپین سترګی سره وویل، چې تر دې مهاله مو داسې شواهد نه دي تر لاسه کړي، چې وښايي ایران دې د افغان دولت وسله والو مخالفینو ته وسلې او یا هم کوم بل څه ورکړي. حال دا، چې په وار وار هغه ایرانۍ وسلې، چې وسله والو مخالفینو ته ورکړل شوې وې او د افغان امنیتي ځواکونو لاس ته ورغلې وې د رسنیو له لوري ښکاره شوي او هیوادوال هم شاهدان دي.

په دې کې شک نشته، چې افغانستان د سیمې او نړۍ د هیوادونو د سیالۍ په ډګر بدل شوی دی له یوه لوري د هندوستان څارګره اداره (را) د پاکستان له څارګرې ادارې (آی اس آی) سره په افغانستان کې ښکیل دي او خپلې جګړې دلته مخ ته بیایي او له بل لوري بیا د ایران سپاه پاسداران په افغانستان کې د امریکا پر وړاندې خپله جګړه مخ ته بیایي او همدا راز پاتې نور هیوادونه هم.

څه موده وړاندې ایران پر افغانستان یو بل تور هم پورې کړ او هغه دا، چې ایراني چارواکي ادعا کوي یو تن ایراني الاصله امریکایی یې، امریکا ته د جاسوسۍ په تور نیولی او دغه کس لومړی په امریکا کې وو له هغه وروسته د پروان ولایت باګرام پوځي اډې راغلی او د افغانستان له پولو اوښتی، ایران ته ننوتی دی. حال دا، چې کیدای شي دغه کس، له عراق، ترکیې او په ځانګړې توګه له آذربایجان څخه ایران ته اوښتی وي؛ خو پړه یې پر خوار افغانستان واچول شوه.

بیا هم افغان دولت د یوې فعالې ډیپلوماسۍ له نه شتون سره د دغو ټولو ناخوالو او تورونو پر وړاندې چوپ پاتې دی او یوازې وايي، چې په دې اړه به څیړنې وکړي. خدای خبر، چې د افغان دولت د څیړنو پایلې به کله څرګندې شي.

ایران د خپلو دا شان څرګندونو سره غواړي له یوه لوري نړۍ والو ته خپل توان او ځواک وښايي او خپله نرمه جګړه لا پیاوړې او ښه یې په درز مخ ته بوځي او له بل لوري پر افغان دولت فشار راوړي، څو د ایران ناروا او نامشروع غوښتنې ومني او همدا راز د دغې الوتکې پیرلو څخه وروسته یې ویلي، چې کوډونه به یې پرانیزي او له مخې به یې دېته ورته نورې بې پیلوټه الوتکې جوړې کړي، چې کیدای شي دغه کړنه د روسیې او یا هم د چین په مرسته تر سره کړي.

د دغو ټولو ناخوالو پر وړاندې او د ملي ګټو ساتلو په موخه افغان حکومت ته لازمه ده، څو د ټولو ګاونډیو په ځانګړې توګه د ایران او پاکستان پر وړاندې فعاله ډیپلوماسۍ غوره کړي، په هیواد کې د دوی لاس وهنو ته زمینه برابره نه کړي او پرې نږدې، چې دغه هیوادونه خپلو شومو موخو ته ورسیږي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ